مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پښتو ژباړه: رحمت آریا
۲۰۲۳/۰۸/۱۰

# د افغانستان سیاسي - تأریخي - جغرافیوي ژورنال

## پینځم توک

### دوه سوه ځلور پینځوسمه پرله پسې برخه

## کندهار

ایډیټ:
ډاکټر لودویګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

**پنجوايي:** ۳۲ – ۳۱، ۲۸ – ۶۵ «الف»: پنجوايي د کندهار په ولایت کې د یوهٔ کلي او یوې ولســـوالۍ نوم دی. دا ولسوالي ۳۹۸۹ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمیر ئـې افغان سرچینو د ۱۶۷۳۷ لږ ۲۶۷۷۰ تنو وګړو تر منځ اټکل کړی دی. د دې ولسوالۍ کرښې: لویدیځ: د میوند، شمال: د خاکریز او ارغنداب، ختیځ: د ډنډ او شـګې او په سویل کې د ریګ له ولسوالیو سره کرښې لري. د پنجوايي ولسوالي ۳۷ کلي لري او ۱۷ کلي ئــې له ۵۰۰ تنو ډیر وګړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تلوکان، تالقان | Talokan | پاشمول | | باکو میان جوی | | نهرِ محتشم | |
| حاجي بسم الله پائـین دِه | | سیاه جوی | | صالحان | | کولک | Kalak |
| دیدار شهاب | | خنجه کک | | قلعـهٔ لعل خان | | مهاجرین | |
| دهم بس | Daham Bas | ناخوني | | زنګي آباد | | سفید روان «سَپیروان» | |
| سال باغي | Salbaghi | بور محمد | Bor Mohamad | نور زي | | خروټي | |
| نـوشـــــان/ موشان | Nushan | ځلا خان | | نلغام | Nalgham | مزنګان | Mazangan |
| مرکز پنجوايي | | آشـکه / اشـوغه عاشقه | Asheka | قاسم رباط | | ګـــدهـــل /کډهل | Godhal |
| بلندي | | چهلغور | | قلعـهٔ فتح الله | | سلوات | Salawat |
| قناتِ نیکو / نیکو کاریز | | ملا دوست او اشرف | | ریګوا | Regwa | ماهي | |
| نادي | | جرِ سدوزی | | قناتِ دوست محـمد | | مچو | Machu |
| نهرِ آواز / عوض | Nahr- i -Awaz | | | | | | |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دا سیمه په ۱۹۱۴ز کال کې په دې ډول شرحه سوې ده: دا یوه ولسوالي او د کلیو یوه ډله ده چې د ارغنداب په کیڼې غاړې کې موقعیت لري چې د بادوان له څلورو کوچنیو کلیو څخه ۳ مایله کوز پیل کیږي او سویل لور ته مخ پر سپیروان او د ارغنداب – ترنک دوآب ګڼ استوګنو ولسوالیو پر خوا غځیږي. بیسکو وایي چې دا ولسوالي د الکوزیو او غلزیو ۱۴۰ کورونه لري او په کال کې تر ۵۷۸۸۰ روپۍ نقدي مالیه او د غنمو او وربشو د ۲۴۴۰ مونډو په اندازه جنسي مالیه ورکوي. د بلوڅو له لومړي څواک څخه «ډګروال بـِـل» د سپیروان او زنګي آباد د ګاونډیو ولسوالیو په هکله د راپور په ترڅ کې وایي چې په ۱۸۸۰ ز کال کې پسونه د نورو څایونو په پرتله دلته په نیمه بیعه پلورل کیدل؛ دلته د اوښانو او کورنیو څارویو لپاره پووندې ښې دي او غلات په لوی شمیر کې تولیدیږي. ډاکټر بیلو ته خبر ورکړل سو چې له پنجوایی څخه یوه مستقیمه لاره د دښتې بلې غاړې ته تر هزار جفت پورې تللې چې اوږد والی ئې یوازې ۸۰ مایله دی. « بیسکو، بیلو، هنل»

* **پنوا:** ۷ – ۳۳، ۳۷ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د کوۀ کامیزان په ختیځ کې په همدې نامـۀ د اوبو د بهیر پر غاړې یو کلی دی.

**پیرنګ**: ۴۵ – ۲۹ ، ۴۸ – ۶۵ «ج»: دا بلوڅ پر سرحد د ۱۰ خاصه دارانو یوه پوسته ده. «آی. بي. سي. ۱۹۰۴»

* **پارسنګ**: ۲۸ – ۳۲، ۵۵ – ۶۶ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د خشک آبې او محمود خیلو تر منځ د ارغنداب د سیند پر غاړه یو کلی دی.

**پارسي وان:** پارسیوان یوه عامه اصطلاح ده چې په افغانستان کې ایراني الاصله فارسي ژبو ته اطلاق کیږي. د هرات په ولایت کې ۹۰۰۰۰ کورنۍ دي چې پارسیوانان بلل کیږي. هغه پارسیوانان چې په کندهار کې میشت دي مدعي دي چې د شاه عباس له پښته دي، شاه عباس نامتو فارسي پادشاه وو چې کندهار ئې زموږ د تقویم په ۱۶۰۹ز کال کې اشغال کړ. دا پارسیوانان د کندهار د ښار د وګړو یوه ربع جوړوي او په بلافاصله ګاونډ کې څو کلي لري چې په کې استوګن دي؛ دوی زیارګالي او سوله ناک او د ذکاوت څښتنان دي، سره له دې چې دا پارسیوانان شیعه ګان او په عام ډول تر ظلم لاندي دي بیا هم په دې توانیدلي دي چې د ښار د سوداګرۍ د پام وړ برخې په خپل لاس کې ولري؛ د دوی اکثریت په لیک لوست پوهیږي او په دولتي اداراتو کې په ثابت ډول عمدتاً د میرزایانو، محاسبانو، محررینو، خزانه دارانو، د مالیاتو په راټولولو او نورو کې استخدامیږي.
د دوی غریبه طبقه مستخدمین دي. دوی تر اوسه هم فارسي د خپلې بومي ژبې په ډول ساتلې ده او هم ئې د فارسي قبیلې نوم چې پخوا ئې په فارس کې غږي ول ساتلی دی. «بیسکو»

* **پساب**: ۳۴ – ۳۱، ۲۵ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د سینجیري د لویدیځ په تقریباً ۹ مایلې کې له سینجیري څخه تر ګرشک پورې د تللې لارې په اوږدو کې یو کلی دی.

**پښه:** دا د بلوڅ پر سرحد د ۲۲ خاصه دارنو یوه پوسته ده. «آی. بي. سيَ ۱۹۰۴»

**پشه یي**: ۴۰ – ۳۲، ۱۳ – ۶۷ «ج»: دا له سویل څخه د قلات غلزایي پر سرک د دمې د نیولو د یوۀ ځای په ډول ښودل سوی دی. ویل سوي چې دا ځای له لنډي مرغي څخه ۱۸ مایله او له قلات غلزایي څخه ۲۴ مایله لیرې ښودل سوی دی. د قلات غلزایي د کمپ سیمې ته له رسیدلو مخکي باید له یوۀ کوچني کوتل څخه چې د «سورکي کوتل» په نوم یادیږي تیر سئ او د همدې کوتل په لمن یا بیخ کې د کمپ سیمه ده. دلته د کاریز اوبـۀ پریمانه دي؛ بهوسه او میوې هم په کثرت دي. همدا شان د اړتیا وړ د توکو بیلابیل اقلام هم سته. سون توکي په کې په قلت دي. استوګن وګړي ئې هوتک غلزي دي. «بن»

**پش غـَبـَرګي**: – ۳۱، – ۶۷: دا یوه غرنۍ لړۍ ده چې د نخاس د غرنۍ لړۍ له شمال ختیځې برخې سره موازي او د دې لړۍ په شمال کې واقع ده. یوه لاره چې له «پسین ډاګ» [1] څخه راغلې د همدې لړۍ له هغـۀ تکي څخه چې ۷۳۰۰ فیټه لوړوالی لري تیریږي او د رشید تر کلا پورې ځي.
د پش غبرګي ناله مخ پر لویدیځ بهیږي او «تندې» [2] ته ورلویږي. «بن»

**پاشمول:** پشمول: پاش مول: ۳۳ – ۳۱، ۲۶ – ۶۵: دا د ارغنداب د سیند پر ښې غاړه د الکوزیو د کلیو یوه ډله ده او د هغـۀ سرک په ختیځ کې موقعیت لري چې د «سولاغي» [3] له منځه په تیریدلو «سیاه چپ» ته تللی دی. پشمول ۳۵۰ کورونه او ۱۰۲۵ تنه استوګن وګړي لري او کیدای سي د سبلاغي کلی هم په پشمول کې وشمیرل سي. «بیسکو، هنل»

[1] - Psein Dag
[2] - Tanda
[3] - Sablaghai


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**پاتاب/ پاتاو**: ـ ۳۱، ـ ۶۵: دا هغه نهر دی چې د ارغنداب له اوبو څخه کندهار او بلافاصله ګاونډ سیمو ته ئې اوبـهٔ رارسوي. د دې نهر سر یا پیل د «شک چاله» [4] کلي ته نیږدې دی؛ دا نهر د سیند له کیڼي غاړې سره موازي بهیږي چې یو مایل د سیند له غاړې لیرې دی، دا نهر تر هغو له سیند سره موازي بهیږي چې کیڼ لاس ته تاو سي او بیا پیر پایمال ته نیږدې د کندهار په شمال لویدیځ کې د غرونو د یوې چاودې له منځه تیریږي. «بیسکو»
* **پته خیل**: ۹ – ۳۱، ۳۰ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د سپین بولدک د شمال ختیځ په تقریباً ۱۳ مایلۍ کې د لوی کاریز د سویل په تقریباً ۲ مایلۍ کې یو کلی دی.
* **پتان خیل**: دا د کندهار په ولایت کې د سپین بولدک د شمال ختیځ په تقریباً ۱۰ مایلۍ کې د کدني د سیند پر غاړې یو کلی دی.
* **پاتکزي**: ۳۴ – ۳۱، ۱ – ۶۷ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د سلام د کلي د سویل ختیځ په تقریباً ۲ مایلۍ کې د معروف/ ماروف د سیند پر غاړې یو کلی دی.
**پتوزي**: دا د توخي غلزیو یوه څانګه ده. د دوی ډیری په غندان کې او یو شمیر ئـې د ترنک پر غاړې استوګن دي. «ملوی»
* **پاینده کلی**: ۲۵ – ۳۱، ۱۹ – ۶۷ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د «خلیله» [5] په سویل ختیځ کې د سیلسن/ ثالثون د سیند پر غاړې یو کلی دی.
* **پرانګ**: ۳۹ – ۳۱، ۵۸ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د لوړه د سیند د یوې څانګې پر غاړې «خون درې» [6] ته نیږدې یو کلی دی.
**پري نای**: ۳۶ – ۳۱، ۴۸ – ۶۷ «ج»: دا د کند د سیند پر ښی غاړې، د «دوم» [7] د اوبو د بهیر د خولې په مقابل لوري کې یوه دښته ده. «بن» په دې نوم یو ځای د «شین ګي» [8] په سویل ختیځ کې موقعیت لري.
**پرشي**: ـ ۳۱، ـ ۶۷: دا د شادیخاک د کوتل او د رشید د کلا تر منځ په یوې غرنۍ سیمې کې یوه ناله ده چې د شادیخاک د شمال ختیځ په ۷ مایلۍ موقعیت لري.
دلته په ګاونډ کې د «پسین» د قبیلې کلي ودان دي چې بهوسه ورڅخه تر لاسه کیدای سي. همدا شان دلته د اوبو یو بهیر هم سته چې پریمانه اوبـهٔ لري. «بن ۱۸۹۴» په دې نوم یو کوتل د قلات په ختیځ کې په ۴ – ۳۲، ۱۵ – ۶۷ «ج» کې موقعیت لري.
**پشي**: ۴ – ۳۲، ۱۳ – ۶۷: دا قلات غلزایي د ختیځ په ۲۵ مایلۍ کې د یوهٔ کوتل په بیخ یا لمن کې د دمې نیولو یو ځای دی. د دې ځای استوګن وګړي غلزي دي او دلته دوی د ګمرکاتو یو ستیشن لري.
دلته د اوبو یوه چینه سته. «لمسدن»
مهمه یادونه: دا هماغه پشه یې ده. *په دې نوم یو کوتل په ۴۸ – ۳۱، ۳۰ – ۶۵ «ج» کې موقعیت لري.*
* پنه: پینه: ۴۳ – ۳۳، ۲۹ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د هلمند د سیند د یوې څانګې د لویدیځ په یو مایلۍ کې په یوهٔ تنګۍ کې چې د پیتاو کوه په شمال کې واقع دی یو کلی دی.
**پنکي**: پینکي: وګورئ: ګردِ پینکي
**پیر احمد شاه**: وګورئ: صاحب زاده
**پیرک خیل**: دا د توخي غلزیو یوه څانګه ده چې د ترنک پر غاړې اوسیږي. «ملوی»
**پیرک زي**: دا د نورزیو د قبیلې یوه څانګه ده.
**پیرعلي زي** :دا د اڅکزیو یوه څانګه ده.
* **پرني**: پیراني: ۲۳ – ۳۱، ۴۷ – ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې افغان سرحد ته نیږدې د «الا جرګې» د شمال په تقریباً ۲ مایلۍ کې یو کلی دی.
**پیرانجیر**: ۳۷ – ۳۱، ۴۰ – ۶۵: دا د کندهار په لویدیځه خوا کې د میان جوی د نهر پر غاړې له «دِه محسس» [9] څخه ورهاخوا یو کلی دی.
**پیردوست**: ۳۸ – ۳۱، ۴۹ – ۶۵: دا د قلات د سرک پرغاړه لږ شمال خوا ته د کندهار د ختیځ په ۱۵ مایلۍ کې یو کلی دی.

---

4 - Shakchala
5 - Khalila
6 - Khun Darrah
7 - Dom stream
8 - Shingai
9 -Deh Muhassis


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**پیرکاني:** دا د بړیڅو د بولان مینګلو یوه څانګه ده چې د پیاوړي «نوزي مینګلو» [10] له پلوه له خپل اصلي ټاټوبي او استوګن سیمې څخه و شړل سوه. د پښین په سویلي منتهی الیه کې د دوی درې فرعي څانګې دي او ظاهراً ښکاري چې دوی د بیلابیلو نیټو په لړ کې دلته راکډه سوي دي؛ وروستۍ ډله ئې د ۱۸۷۷ز کال په شاو خوا کې راکډه سوه. دوی د لوړه پر غاړو هم څو کمپونه لري. ښاغلی دوک وایي چې د پیرکانیو تقریباً ۱۷۰ کورنۍ « ۵۰۰ نارینه» په ښوراوک کې دي. شک نه سته چې د دوی یو شمیر پا شارود «شاهرود – ژ» کې هم سته. د پیرکیانو اکثریت په ژمي کې د نوشکي دښتو ته کډه کیږي، دوی خپله کډه کیدنه د آګست د میاشتې په لومړیو کې هغه مهال ده چې «تریخ»(یو ډول سویلي لرګی دی) په وچیدلو پیل وکړي.

پیرکاني د اکثریتو بړیڅانو په شان شپانـۀ وګړي دي، آرام خلک دي؛ او که په چارو کې ئـې لاسوهنه ونـۀ سي ډیرغیر مهاجم خلک دي خو د دې وړتیا هم لري چې د خپلې قبیلې د جنګیالي وګړو د شمیر په اندازه له نورو رقیبو قبیلو سره په زغرده ډغرې ووهي. «میتلند»

**پیرمحمد:** ـ ۳۱، ـ ۶۶: دا د خشک رود په درې کې یو کلی دی؛ دا په هغو ۱۹ کلیو کې یو کلی دی چې د سُندَرزیو د کلیو ډله جوړوي. «کلیفرډ»

**پیر محمد:** ۱۰ – ۳۰، ۹ – ۶۶ «ج»: دا په ښوراوک کې د لوړه د سیند پر کیڼې غاړې، دښتې ته د دې سیند د راغورځیدلو ټکي ته نیږدې او د میر علم د کلا د سویل په تقریباً یو مایلۍ کې یو کلی دی. هنل وایي چې دې کلي کې تقریباً ۸۰ جونګړې سته. دا کلی د پیرمحمد خان استوګنځی دی «یا وو»، نوموړی د مندوزي بړیڅو لوی ملک دی او ظاهراً د ټولې قبیلې مشر هم دی. د دې کلي استوګن وګړي د مندو زیو د بیلابیلو څانګو اړوند کسان دي. هغه کاریز چې میر علم خان کیندلی وو له «۱۸۸۱» راپه دیخوا د څو کالو لپاره بند وو؛ دا کاریز د شیراني نهر د کلي له څنګ سره بهیږي؛ د ښناک اوبـۀ ئـې له یوې چنې څخه راځي چې د درې په سر کې ده؛ دا اوبـۀ له همدې چینې څخه کښته کاریز څخه راځي. دا چینه د بادي «باجي» غندک په نوم یادیږي. «میتلند» *په دې نوم بل ځای د خوګیانیو په شمال لویدیځ کې په ۳۶ – ۳۱، ۲۸ – ۶۶ «ج» کې موقعیت لري.*

پیروزي: یا: «پیرخیل»: دا د غلزیو یوه څانګه ده.

**پیرپایمال:** ـ ۳۱، ـ ۶۵: دا د پټاب د نهر پر غاړه د پیر پایمال د غرۀ په ډډه کې د ارغنداب پر لور یو کلی دی؛ دا کلی د کندهار د شمال لویدیځ په تقریباً ۳ مایلۍ کې واقع دی. د ۱۸۸۰ز کال د سپتمبر د میاشتې په لومړۍ نیټې دې ځای د سردار محمد ایوب خان د ځواک د ښي لاس موقعیت جوړواوۀ او ډیر ټینګ سنګر بندي سوی وو. «آی. بي.سي.»

**پیرپایمال:** ـ ۳۱، ـ ۶۵: لوړوالی: ۴۳۹۷ فیټه. دا د بابا ولي د کوتل او د هغـۀ مخ خلاصې ځای تر منځ یوه غر دی چې له منځه ئـې د ارغنداب نهرونه، د کندهار د دښتې پر لور د کندهار د شمال لویدیځ په تقریباً ۳ مایلۍ کې، را تیریږي. «آی. بي. سي.»

**پیرزاده:** ۳۶ – ۳۱، ۴ – ۶۵ «ن»: دا د کشک نخود په ولسوالۍ کې یو کلی دی. «لیچ»

**پیرزي:** دا د علي زي درانیانو یوه څانګه ده. «بیسکـو»

* **پشي**: پیشي: ۴۶ – ۳۱، ۴۲ – ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د رشید د کلا پر لور د تللي سړک په اوږدو کې د دروازه ګي د سویل لویدیځ په تقریباً ۴ مایلۍ کې یو کلی دی.

**پشي**: یا: پیشي: ۳۸ – ۳۱، ۳۰ – ۶۵ «ج»: دا یو کوتل دی چې د خاکریز په غرنۍ لړۍ منتهي کیږي. دا د بولان او د تنګلي د کوتلونو د مدخلونو ترمنځ د ارغنداب دره شا ته پریږدي او په عام ډول د پیشي د نالې ډبرین بستر تعقیبوي چې ۵۰ فیټه پراخه دی او دواړو خواوو ته ئـې دنګ غرونه ولاړ دي. کوتل ته نیږدې، چې په شپږم مایل کې له کوتل څخه لاره ورڅخه تیریږي، یو کوچنی کلی دی چې د اوبو یو بهیر له دوه وو کورونو سره نیږدی دی، همدلته لاره د ملا مرده له کوتل څخه تیریږي؛ همدا لار د تنګلي د کوتل له سویلي برخې سره نښتې ده. کوتل ته د ختلو سختي متوسطه ده او له کوتله کښته کیدل د «سبزل» [11] پر لور د یوۀ ټیټ ډبرین خط الرأس له منځه آسانه دي؛ سبزل د خاکریز په درې کې له کوتل څخه ۴ مایله لیرې دی. له دې لارې سره هغه لاره یوځای کیږي چې له سبزل څخه په تقریباً ۲ مایلو لړ واټن کې د بولان په کوتل منتهی کیږي. دا کوتل هاروي تشریح کړی دی او وایي چې " د بار وړونکو اوښانو د تګ لپاره عملي دی" خو ورسره دا هم وایي چې " سرتیري له دې لارې په یو استوي لیکه تللای سي."

تر ټولو به ښه دا وي چې کوتل «له دفاعي اړخه – ژ» په شمالي پای کې ټینګ سي خو دا موقعیت کیدای سي د بولان یا د ملا مرده په سړکونو تبدیل سي. د دې کوتل له منځه د تللي سړک په اوږدو کې پریمانه اوبـۀ دي. «هاروي»

**پیشقدم:** ـ ۳۲، ـ ۶۵: دا په غورک کې یو کلی دی. «لیچ»

---

10 - Nozai Mingals

11 - Sabzal



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**پیتاو**: ۱۵- ۳۲، ۳۱ – ۶۶: پیتاو د " لمر د خوا" په معنی ده چې د «سیوري» برعکس ده. دا نوم اکثراً هغه خلک ټیټو غرنیو لړیو ته کاروي چې په ختیځ کې او یا په سویل ختیځ کې ژوند کوي چې د ورځې ډیری برخه د لمر ویني. همدا شان سیوری لویدیځ ته یا شمال لویدیځ ته د یاد سوي دلیل برعکس کارول کیږي.

فقیرزي د ارغنداب دسیند پرغاړو د خان خیلو او پیتاو تر منځ د پینځو کلیو یوه ډله ده. ویل سوي چې پیتاو د ارغنداب پر غاړه د میزان په شمال کې یوه علاقه هم ده. «ملوی»

*په دې نوم نور ځایونه په دغه ځایونو کې موقعیت لري: ۳۵ – ۳۳، ۵۸ – ۶۵ «ن»؛ ۴۲ – ۳۲، ۹ – ۶۷ «ن»؛ ۵۶ – ۳۳، ۲۶ – ۶۶ «ن»؛ ۳۴ – ۳۳، ۴۳ – ۶۶ «ن»؛ او ۲۴ – ۳۱، ۳۱ – ۶۶ «ن»*

**پودینه**: ۵۱ – ۳۱. ۴۳ – ۶۵: دا یو له هغو ځایونو څخه دی چې د ارغنداب له درې څخه د خاکریز پر درې منتهي کیږي؛ دا له کندهار څخه تر نېش او تیرین پورې لویه لاره ده. لینس په دې هکله لاندنی شرحه وړاندې کوي:

"پودینه د خاکریز د غرنی لړۍ په شمال ختیځې انتها کې یوه کنډو کپر ناهمواره ناحیه ده چې ارتوالی ئې له ۲ تر ۵ مایلو پورې او اوږدوالی ئې تقریباً ۷ مایله دی چې د ارغنداب له دښتې د باغک یا د سوزنې تر نالې پورې غځیدلې ده. د دې ناحیې له منځه بې شمیرې وچې، کم عمقه نالې تیرې سوي او که اوبهٔ ولري نو اوبهٔ ئې د ارغنداب د درې پر لور ځي، د دې نالو په منځ کې د یوې نالې پرغاړې د پینځو ډلو کورونه ښکاري چې ټولټال ۳۵ کورونه دي، دغو کلیو ته نیږدې د ځمکې یوه کوچنې ټوټه هم کرل سوې چې د کاریزونو په اوبو خړوبیږي.

دا سیمه د ګرانیت یا سنګ خارا د ډبرو په تخته سنګو پوښل سوې ده، غرونو چې دا سیمه ئې محصوره کړې دنګ دي خو له هر لور لاسرسی ورته شونی دی. د دغو کلیو استوګن وګړي پوپلزي دي. له پودینې څخه دوه سړکونه تیریږي، ختیځواله او لوی سړک ئې عمومي سړک دی چې له کندهاره تر نېش پورې تللی او دې درې ته د یوې نالې د بستر له لارې ننوځي، دا ناله په خپل ختیځ اړخ کې دنګ غرونه لري او د غلام محمد پوپلزي کلي ته نیږدې له درې وځي.

ویل سوي دا لاره مخ خلاصي او د هر ډول وسلو د لیږد لپاره عملي لاره ده.

زړه لاره چې یوازې پل لاره ئې بللای سو، دې درې باندې د فتح خان د ختیځ په تقریباً ۱ ۲/۱ مایلې کې ننوځي او د «کوهٔ تیبان» په غرنی لړۍ کې نور له درې څخه وځي، دا لاره د نوموړې لړۍ په ختیځې انتها کې له یوې تشې څخه تیریږي، دا انتها یو لږ څه جګه تللې ده. له دې ځایه وروسته دا لاره د ډبرینو ټیټو غرونو له منځه د باغک د نالې پر لور مارپیچه کیږي. دلته دا ټوله لاره د بار وړونکو ځاریو د تګ لپاره عملي ده خو د توپونو د لیږد لپاره نهٔ ده. دلته اوبهٔ د فتح خان له کاریز څخه له یوهٔ کاریز څخه تر لاسه کیږي. له فتح خان څخه تر کوهٔ تیبان پورې واټن ۳ مایله دی؛ بیا له هغهٔ ځایه تر باغت پورې واټن ۴ ۲/۱ مایله دی. «لینس» د پودینې په نوم یو کلی په ۱۰ -۳۴، ۲۰ – ۶۶ «ن» کې موقعیت لري.

**پامه زي**: پومه زي [12]: – ۳۱، – ۶۶: دا هغه ځای دی چې د جنرال سر رابرتس ځواک چې د آګست د میاشتې په ۲۷ نیټې له قلات غلزایي څخه د کندهار پر لور مارش کاوهٔ دمه وکړه. د نوموړي له کمپ څخه واټن، د کندهار په خوا کې له تیرانداز مینار څخه تر پامه زیو پورې ۱۵ مایله وو، او د رباط د کمپ تر سیمې پورې ۱۹ مایله وو. جنرال رابرتس وایي چې دلته له سیند څخه پریمانه اوبهٔ تر لاسه کیږي، دلته علوفه باب ډیر ول او د اړتیا وړ توکي په کافي اندازې راوړل سول. جګړن کینیډي چې له همدې ځایه تر بوري پورې تللی دی له کمپ څخه د ارغنداب تر درې پورې د دهلې په تقریباً مقابل لور کې یوه ښه لاره موندلې ده. «آی. بي. سي.»

**پوپلزي**: دا د درانیانو یوه اساسي څانګه ده چې له ډیرو پخوا وختونو کې د افغانستان یوه پیاوړې او مخکښه قبیله ده او د خپلې اساسي څانګې سدوزیو له لارې د دې هیواد واکمنه قبیله ده. د دوی د استوګنې اساسي ځای د شهر صفا په ګاونډ کې د ترنک د درې په کوزنی برخې کې دی. د دوی یو شمیر په کندهار کې هم اوسیږي او لوی شمیرې ئې ان د ملتان تر لیرې ښار پورې هم لاره موندلې ده، چې کیدای سي په قبیلې کې د سیاسي پیښو له کبله هلته تللي وي. پاتې نور ټول پوپلزي د کندهار د شمال په غرنی سیمې کې اوسیږي. د دوی شمیر زښت ډیر دی؛ په عام ډول د یوهٔ منځنې اټکل له مخې ۱۲۰۰۰ کورنی ویل سوی دی. سره له دې چې یو شمیر پوپلزي شپانهٔ دي خو د دوی لویه شمیره په بزګرۍ کې بوخته ده. دوی د درانیو د قبیلو په منځ کې تر ټولو متمدنه قبیله شمیرل سوې ده. وزیر «صدر اعظم – ژ» په عام ډول د پوپلزیو د بامیزیو له څانګې ټاکل کیږي او د پوپلزیو له منځه اکثریت افسران غوره سوي دي.

د هغو پوپلزیو ترځنګ چې د کندهار په ولایت کې ژوند کوي د پوپلزیو تقریباً ۹۰۰ نورې کورنی په پُشتِ رود کې هم میشتې دي. «الفنستن، اې. بي. سي.» *په دې نوم کلي په دغو ځایونو کې موقعیت لر ي. ۴ – ۳۱، ۲۸ – ۶۶ «ن»؛ ۱۳ – ۳۱، ۳۹ – ۶۶ «ن»؛ او ۱۲ - ۳۲، ۲۹ – ۶۶ «ن»*

* **پُـتَـک**: ۳۱ – ۲۹، ۵۳ – ۶۶: دا د کندهار په ولایت کې د سیلسن/ ثالثون د سیند پر غاړه، له ارغسان سره د یو ځای کیدلو له ټکي تقریباً ۵ مایله لیرې یو کلی دی.

---

[12] - POMAZAI



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**پَتي:** پُتي: يا: پوتي: ۱۷ – ۳۱، ۲۰ – ۶۷: دا د شاديخاک د کوتل په شمالي ډډه کې د بارکزيو يو کلی دی. «د بمبئـي کتار، ۱۸۳۹» په دې نوم نور ځايونه په ۲۷ – ۳۱، ۳۱ – ۶۶ «ن» او ۸ – ۳۲، ۳۱ – ۶۶ «ن» کې موقعيت لري.
**پُتي:** پوتي: ۴۶ – ۳۱، ۱۴ – ۶۶ «ن»: د «هاف او گاردن» [13] په وينا، پوتي د هغـهٔ کلي نوم دی چې له کندهاره ۴۳ مايله ليرې واقع دی او د خيلِ آخوند او شهر صفا د کمپ د سيمې تر منځ د سړک په لويديځ کې د قلات غلزايي د سړک پر غاړه واقع دی. د دوی د شرحې پر بنسټ کوتل د «پوتي دره» [14] په نوم ياديږي او " د ۲۰۰ ياردو په اوږدوالي، او د ۱۰ او ۱۵ ياردو په ارتوالي د يوې کوچنۍ غونډۍ د گړنگ پر ژۍ يو تنگی لری." تورن گيسلي له «سککر» [15] ښخه د قلات غلزايي پر لور د مارش په ترڅ کې  د ورځنيو يادښتونو په منځ کې په دې نوم کوتل نـهٔ دی ياد کړی خو وايي چې له خيلِ آخوند ښخه په وتلو په لومړيو ۵ مايلو کې ډيرې لوړې ژورې چې بايد ورباندې وخيږو او ورڅخه راکښته سو، او دا هغو غرنيو مهميزونو جوړ کړي دي چې له غرونو ښخه د سيند خوا ته کښته راغلي دي او همدغو لوړو ژورو زموږ د توپچي ځواک د وسايطو او د بارونو د وړلو لپاره ستونزې جوړې کړې او دا شونتيا سته چې په يوهٔ يا دوه وو ځايونو کې به زموږ لاره بنده کړي.
څو مياشتې وروسته «د ۱۸۸۰ز کال د اپريل د مياشتې په دوهمې نيټې» جنرال ستيوارت مارش وکړ او د پوتي کوتل له خيل آخوند ښخه د شهر صفا پر لور د ۵ مايلۍ په واټن کې دا د يوهٔ ځای په توگه يادوي او وايي چې دلته سړک تر يوهٔ غرهٔ راتاويږي. د همدې لاسوند پر بنسټ د دې کوتل له لارې توپونو تيريدلای سي او په بيخ کې ئـې لاره «ظاهراً د پوتي درې له منځه» لاره " تر ټولو ښه ثابته سوې ده."
تورن «سويل» [16] په ۱۸۷۹ز کال کې د سړک د دې برخې د سختيو په هکله لا ډيره سهمناکه شرحه را ټوله کړې ده او وايي چې د لومړيو ۶ يا ۷ مايلو په واټن کې دا لاره چې له خيل آخوند ښخه پيل او په پينځم مايل کې د پوتي کوتل ته ننوځي، د ستوغو ختلو او شيوه کښته کيدلو له څو پرله پسې لړۍ ښخه تيريږي. دی وايي چې لاره کې يو تنگی دی چې ۳۰ يا ۴۰ يارډه اوږد دی او ستوغه لاره ورختلې " چې ورپسې د ترنک د بستر پر لور "يو توند سقوط" راځي. د جنرال سر. اف. رابرتس مارش هم د دې سړک په هکله په «پومه زيو» [17] کې د جنرال له کمپ ښخه تر رباط پورې خبرې کوي؛ د دې مارش په لړ کې د رابرتس ځواک بايد په دوهم يا دريم مايل کې د پوتی له کوتل ښخه تير سوی وي، او وايي چې سړک ښـهٔ دی خو لږ غرنی دی. «گيسلي، سويل. آی. بي. سي.»
يادونه: داسې ښکاري چې د پوتي په کوتل کې يوازې د درندو وسايطو له ليږدولو ښخه په استثناء دې بله کومه حقيقي ستونزه نـهٔ وي. د توپچي ځواک هغه توپونه چې د جنرال ستيوارت له ځواک سره ول د دې کوتل پر ځای ئـې لاره بدله او د غرونو سره ئـې تير کړل.

**نور بيا**
**پتي: پوتي**

**يادونه:** قدرمنو لوستونکو**!** تاسو تر دغه لينک لاندی د ښاغلی آريا صاحب په آرشيف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دريم ټوک او د څلورم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.

[13] - Hough and Garden
[14] - Poti Dara
[15] - Sukkur
[16] - Captain Saville
[17] - Pomazai


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ